# د کوويډ ۱۹ ناروغۍ په کنټرول کې د سارک هېوادونو ونډه




د چين په ووهان ولايت کې د راپيدا شوي کرونا وايروس له امله چې د نړۍ په زيات شمېر هېوادونو کې خپور شوی نړيوالو ته يوه ستره او ننګونکي ستونزه جوړه کړې ده. له هغې وروسته چې په ايټاليا هېواد کې يې زيات شمېر کسان ووژل د نړيوالو ځانګړې او وېرونکې پاملرنه ځانته جلب کړه. پر همدې بنسټ د مارچ پر ۱۵ نېټه د سويلي آسيا د سيمه ييزې همکارۍ ټولنې يا(سارک) غړيو هېوادونو چې افغانستان يې هم غړيتوب لري مشرانو يې د يو ويډيوي کنفرانس له لارې د ياد وايروس څخه د سيمې د وګړو ژغورلو په موخه په يو شمېر حل لارو او پر همدې برخه کې يو بل سره د مرستو ترسره کولو په اړه خپل نظرونه او سپارښتنې شريکې کړې. دا چې په وروستيو کې د نړۍ هېوادونو د ياد وايروس څخه ژغورنې په برخه کې کوم ګامونه اخيستي؟ د افغانستان په څېر بې وزلو هېوادونو سره د نړيوالو مرستې په کوم پړاو کې دي؟ او په ځانګړې توګه د سارک غړي هېوادونه کولی شي د خپلو سپارښتنو شريکولو وروسته په ګډه د ياد وايروس مخنيوي لپاره اړين ګامونه پورته کړي کنه؟ په دې تحليل کې مو په دی اړه شننه کړې ده .

## د کرونا وايروس وروستي معلومات

په لومړي سر کې کرونا وايروس د درې زرو څخه زيات چينايي وګړي د وژل کيدو سبب شو. د چين هېواد په ګډون يې ټولو هغو هېوادونو ته چې د چين سره د سوداګرۍ او نورو برخو کې راکړه ورکړه لري پراخه اقتصادي زيانونه واړول. د چين وروسته يې په اروپا کې ايټاليا او په آسيا کې ايران او کوريا هېوادونه ډېر وځپل. وروستۍ شمېرې ښيي چې ياد وايروس د نړۍ په کچه ايټاليا هېواد زيات ځپلی دی، او دم ګړۍ يې د ياد هېواد د ۴ زرو څخه زيات وګړي د کرونو په وجه وژل شوی دي او شاوخوا ۴۹ زره تنه په ياد هېواد کې په کرونا وايروس اخته دي. ايران چې له يوې مخې اقتصادي ستونزو او له بل پلوه د امريکا له لوري د پراخه اقتصادي بنديزونو سره مخ دی، کورونا وايروس ورته لويه ننګونه جوړه کړې ده او د زرو څخه زيات وګړي يې تر دې مهاله د ياد وايروس له امله مړه شوي دي او په زرګونو نور يې پرې اخته دي. په داسې حال کې چې کورونا وايروس له چين وروسته د نړۍ نورو هېوادونو ته په تيزۍ سره د خپرېدو

په حال دی، د ايران په څېر هېوادونو ته د نړيوالو نه پاملرنه کولی شي ياد وايروس نور هم په چټکۍ سره د ايران ګاونډي هېوادونو وګړو ته سرايت وکړي.

## نړيوالو تر اوسه څه کړي دي؟

د کرونا وايروس مخنيوي په برخه کې چين هېواد د لومړنيو پراخه او هر اړخيزه ګامونو اخيستلو وروسته وکولی شول، کوويد ۱۹ کنټرول کړی او تقريبا خپل هېواد نوی وګړي په ياد وايروس اخته کېدو څخه وژغوري. وروستي ارقام ښيي چې په چين هېواد کې په ياد وايروس د اخته کېدونکو کسانو شمېر ورځ په ورځ په کميدو دی او دا په ډاګه کوي چې چين توانيدلی چې د ياد وايروس مخه تر ډېره ډب کړي.

جاپان هېواد بيا په لیبارټرۍ کې د ياد وايروس په توليد توانيدلی او د جاپاني ډاګترانو پر وينا دا کار کولی شي د کرونا وايروس کنټرول او مخنيوي برخه کې مرستندويه واقع شي. امريکايي څېړونکو او ډاکټرانو هم هڅې پيل کړي ترڅو د کرونا وايروس مخنيوي لپاره واکسين جوړ کړي.

له دې پرته د نړۍ ګڼ شمېر هېوادونو د وايروس مخنيوي لپاره د ځمکې او هوا له لارې په هر ډول سفرونو کلک بنديز لګولی. د وروستی اعلان مطابق،پاکستان د افغانستان او نورو هيوادونو سره په اول سرکی خپلی ځکمنی پولی او بيا هوايي پولی هم وتړلې. روسيې د راتلونکې مې مياشتې پورې ياد هېواد ته په هر ډول تګ راتګ بنديز ولګاوه او په همدې ترتيب اروپايي او عربي هېوادونو هم په ورته سفرونو د نامعلومې نېټې پورې بنديزونه لګولي دي.

د علي بابا په نوم د الکترونيکي توکو سوداګريز چينايي شرکت مشر جاک ما بيا بشري او انساني مرستو په برخه کې د نړۍ زيات شمېر هېوادونو سره د وايروس مخنيوي په پار پراخه مرستې ترسره کړي دي، نوموړي تېره ورځ د افغانستان په ګډون د يو شمېر آسيايي هېوادونو سره هم د ماسکونو او د روغتيايي کيټونو مرستې اعلان ترسره کړ. اړينه ده چې دا کار افغان سوداګر دې ته وهڅوي ترڅو د افغان ولس سره په دې سخت وخت کې خپلې بشري او انساني مرستې پراخه کړي، او د ټولنې مالداره قشر بايد د بې وزلو کسانو لاسنيوی ته له هر بل وخت زيات ورودانګي.

چين د ايټاليا هېواد په ګډون د يو شمېر نورو هېوادونو سره هم د روغتيايي سامان الاتو او ماسکونو په برخه کې مرستې ترسره کړي دي  او ډاډ يې ورکړی چې د کرونا وايروس مخنيوي تجربې او لاسته راوړنې به له نورو سره هم شريکې کړي، او روسيې هم د ايټاليا هېواد سره د کرونا وايروس څخه ژغورنې په برخه کې د مرستې اعلان کړی دی ، دا کار کولی شي د نړۍ په کچه د وايروس مخنيوي کې اغېزمن واقع شي.

## د کرونا وايروس په مخنيوي کې د سارک ونډه

سارک يا د سويلي آسيا د سيمه ييزې همکارۍ ټولنه چې افغانستان يې هم غړيتوب لري، د کرونا وايروس پر ضد د ګډې مبارزې او ستراتيژۍ جوړولو اعلان د يادې ټولنې مشرانو لخوا د ويډيوي کنفرانس په ترڅ کې ترسره شو. ياد کنفرانس چې د هند لومړي وزير نريندرا مودي په ابتکار جوړ شوی وو، د افغان ولسمشر محمد اشرف غني په ګډون د نورو غړيو هېوادونو مشرانو او استازو پکې ګډون درلود. ولسمشر محمد اشرف غني ياد کنفرانس ته د خبرو پر مهال څرګنده کړه چې له ايران څخه د افغان کډوالو بې پلانه ورستنول يې د هېواد لپاره ستر ګواښ دی او کولی شي د وايروس په خپراوي کې مرسته ترسره کړي. له دې پرته ولسمشر د هېوادونو ترمنځ د پولو او سرحدونو په تړلو هم خوښي

څرګنده کړه چې دا کار کولی شي د وايروس په مخنيوي کې مرستندويه واقع شي، ولې د نوموړي په آند اړين توکي او د درملو لېږد رالېږد بايد ځنډنی نه شي.

سارک غړي هېوادونه چې نفوس يې د ټولې نړۍ ۲۱ سلنه جوړوي ، د کرونا وايروس پر وړاندې تر دې دمه جدي ښکاري او تر ټولو اړين ګام چې د ياد وايروس په اړه يې ترسره کړی، هغه وروستی ويډيويي کنفرانس وو چې د اړوندو هېوادونو استازو او مشرانو يکې خپل نظرونه او سپارښتنې شريکې کړې. د سارک غړي هېوادونو له ډلې هند چې په څېړنيزو او ساينسي برخو کې په پراخه کچه ځواک لري، کولی شي د نورو هېوادونو سره د تجربو شريکولو په لړ کې د وايروس مخنيوی ترسره کړي. د سارک غړي هېوادونه اړ دي ترڅو د وګړو ژغورولو لپاره په دې وخت کې يو بل سره نه يوازې خپلې تجربې شريکې کړي، بلکې د ښاغلي مودي هغه وړانديز چې د کرونا وايروس پر وړاندې د ايمرجنسي فنډ يا د يوې بېړنۍ مالي مرستې چمتو کول وو هم پلي کړي. هندوستان ياد فنډ سره په لومړي سر کې 10 او افغانستان او مالديو هېوادونو بيا يو اعشاريه دوه ميليون ډالر مرسته د خپلو هېوادونو له لوري اعلان کړې ده.  خو د کرونا ناورين ته په کتو سره، دا ډيرې لږې روپۍ دي. په اروپا کې يوازې انګلستان ددې وايروسي ناروغۍ د کنټرول لپاره ۴۰ مليارده ډالر او امريکې بيا ۵۰ مليارده ډالر، ځانګړې کړي دي.

د مالي لګښت نه پرته، اړينه ده ترڅو د سارک غړي هېوادونه په ايران فشار راوړي، ترڅو په دې حساس وخت کې هغه افغان کډوال چې په ياد هېواد کې مېشت دي، د ويستلو څخه ډډه وکوي. داسې راپورنه هم شته چې افغان کډوال په ايران کې د روغتيايي مرستو او اسانتياوو څخه په قصدي توګه لرې ساتل کېږي.  د کډوالو نړيوالې ادارې بايد د افغان کډوالو په برخه کې اړين ګامونه پورته کړي، ترڅو هغوی سره انساني او بشري سلوک ترسره شي، نه دا چې هغوی په زور او بې پلان افغانستان ته وشړل شي، او يا وځورول شي. ځکه دا کار کولی شي د ايران څخه چې د کرونا وايروس يکې په پراخه کچه خپور شوی دی، افغانستان اود سيمې نور هېوادونه هم په بده توګه اغېزمن کړي.

د کرونا وايروس مخنيوي لپاره افغان حکومت اړ دی ترڅو د چين هېواد په ګډون د نورو مرستندويه هېوادونو هر اړخيزو مرستو جلب کولو لپاره مخکې له دې بېړه وکوي چې د هېواد په سطحه د کرونا وايروس له امله بېړني حالت اعلانېدو ته خبره ورسيږی. افغان سياسي مشران بايد د هېوادوالو ژغورولو په موخه سياسي اختلافاتو او کشمکشونو څخه لاس واخلي او ټوله پاملرنه د کرونا وايروس مخنيوي ته ځانګړې کړي، دا ځکه  چې افغانستان د کرونا وايروس له امله د سختو پړاوونو سره مخ کړی، که پر وخت ورته پاملرنه ترسره نه شي نو لرې نه ده چې د ايټاليې  په څېر به افغانستان هم د وايروس له کبله سخت وځپل شي.

د سيمې هېوادونو وګړي او په ځانګړې توګه افغان ولس بايد په دې وخت کې د روغتيايي ادارو سپارښتنو ته پاملرنه ترسره کړي، او د هغوی لخوا د ژغورنې وړ موارد بايد په پام کې ونيسي. د سارک هېوادونو روغتيايي ادارې بايد په بېړنۍ توګه خپلې سپارښتنې او تجربې يو له بل سره شريکې کړي، ځکه کرونا وايروس په اړه بې غوري او په دې اړه له نورو سره نه مرسته، کولی شي د غړيو هېوادونو وګړي چې زيات شمېر يې بې وزلۍ سره مخ دي په بې سارې توګه په ياد وايروس اخته کړي. له دې پرته غړي هېوادونه بايد په دې سخت وخت کې د بشري مرستو کچه پراخه کړي. د روغتيا نړيوال سازمان د راپور له مخې افغانستان د کرونا وايروس سره د مبارزې په برخه کې د 3.5 ميليون ډالرو کمښت سره مخ دی.  او د کرونا وايروس څخه ژغورنې وړ مواد او توکي چې افغان روغتياپالان يې بايد ولري هم نه لري، د سارک

هيوادونو په هڅونې د روغتيا نړيوال سازمان او نورې مرستندويه ادارې بايد افغانستان سره اړينې او بېړنۍ مرستې ترسره کړي.

همداراز، اړينه ده ترڅو افغان حکومت او طالبان د کرونا وايروس څخه ژغورنې لپاره سرتاسري اوربند اعلان او پلي کړي، څکه نا امني کولی شي د روغتيا پالو مخه ډب کړي، د سارک غړي هېوادونه بايد د افغان حکومت اوطالبانو ترمينځ د عاجل اوربند ټينګولو لپاره لاس په کار شي.

## خبرتيا

**د ستراتيژيکو او سيمه ييزو څېړونو مرکز په پام کې لري چې د روان کال حمل مياشتې 15 نېټې څخه وروسته اوونيز تحليل په هرو دوو اوونيو کې يو ځل نشرته وسپاري.**

**محترم لوستونکي دې خبر وي.**

# معارف افغانستان؛ چالش ها و راه حل ها



## حلقه (۱): چالش های داخلی

افغانستان از جمع کشورهایی است با پائین ترین درجه سواد را دارد مشکلات بزرگی را در بخش های مختلف از جمله معارف تجربه می کند که این امر تاثیرات منفی زیادی را بر پیشرفت کشور بر جا گذاشته و می گذارد. با وجود آنکه پیشرفت های قابل توجهی در ساحه تعلیم وتربیه به چشم می خورد، کیفیت معارف هنوز هم به عنوان یک چالش بزرگ باقی مانده است. مکاتب از امکانات، وسایل لازم و کیفیت معیاری برخوردار نیستند. این درحالی است که هر تحولی مثبت که مبتنی بر علم و دانش باشد قطعا می تواند امیدوار کننده باشد. اگر در فضای مسموم کنونی کشور تک امید را تصور کنیم این است که امروز فرزندان این سرزمین با جدیت و تلاش مضاعف برای آموختن گام بردارند و آینده روشنی را برای این کشور رقم بزنند.

با وجود پیشرفت نسبی در سال های اخیر، معارف افغانستان هنوز هم با چالش های بزرگی رو به رو است که بر اساس تخمین وزارت معارف، جمعیت با سواد کشور از ۴۲٪ تجاوز نمی کند به این حساب، ده میلیون شهروند افغانستان بی سواد اند که اکثریت این افراد زنان اند، به ویژه زنان که در روستا ها زندگی میکنند. تحلیل این هفته روی چالش های داخلی معارف افغانستان تمرکز نموده است.

## ابعاد چالش های داخلی معارف کشور

چالش های زیادی فرروی آموزش و پرورش کشور وجود دارد که از آن جمله د راین جا به موارد برجسته و مهم آن می شود اشاره کرد. هرچند در مورد رفع چالش های یاد شده وعده های از سوی مقامات داده شده است و حتی در مواردی

تمهیداتی نیز در نظر گرفته شده است، با این وجود تا زمان رفع کامل چالش های موجود بنابر وضعیت سیاسی و اقتصادی کشور وزارت معارف راه طولانی را در پیش دارد .

## ضعف پایه درسی

گاهی عقب ماندگی در آموزش و پرورش بخاطر است که شاگردان در صنوف ابتدایی اساس پایه علمی شان درست گذاشته نمی شود. در حالیکه حروف، جمله بندی و اعداد را درست بلد نبوده ولی توانسته به صنوف بالاتر ارتقاء نماید. متاسفانه در معارف افغانستان بیش تر معلمین را که تجربه کافی نداشته باشد به صنوف ابتدایی موظف می کنند. این در حالی است که برای دانش آموزان مراحل اساسی همان صنوف ابتدایی میباشد شاعر چی زیبا گفته شده است :

چون گذارد خشت اول بر زمین معمار کج
گر رساند بر فلک، باشد همان دیوار کج

در کنار آن دلایل دیگری که سبب ضعف پایه درسی شاگردان میگردد میتواند شامل: اختلال در یادگیری است که معلم به علت تراکم شاگردان در صنف متوجه این موضوع نگردد، عدم اعتماد داشتن یا هم نفرت از معلم به هر علت که پدید آمده باشد، غیر حاضری مکرر شاگردان از مکتب، سنگینی برنامه درسی که باعث گردد شاگرد ان درس را نفهمند و محیط نامناسب که سبب اختلال در درس و بی میلی در زمان صنوف ابتدایی میگردد سبب میگردد؛ شاگردان به دوره های بعد در دورس شان به مشکلات در مواجه شده و علاقه ی به پیش برد دروس به شکل درست آن نداشته باشند.

## ضعف در روش تدریس

درهرکشوری نظام آ موزش وپرورش یکی ازنظام های مهم اجتماعی است. آموزش امریست که سبب ایجاد تغییرات مطلوب در شناخت ها، نگرش ها و در نهایت رفتار کودکان، نوجوان و جوانان میگردد. البته مشروط بر این که از شیوه های مناسب در عرصه آموزش و پرورش استفاده شده و با روش های خوب مواد آموزشی برای شاگردان منتقل گردد. با وجود پیشرفت جامعه جهانی از نظر روش تدریس و تکنولوژی آموزشی، کشور ما هنوز از روش های سنتی و قدیم استفاده می کند. به طور نمونه شاگردان ریاضی همه از سمت راست می نویسند ولی از سمت چپ می خوانند. وقتی به مقاطع بالا که رسیدند می فهمند که ریاضی باید از سمت چپ نگاشته شود. در کنار آن به اساس نورم فعلی معارف، یک معلم به ازای هر ۴۵ دانش آموز است، شاگردان طبقه اناث به علت کمبود معلم اناث، کمتر اجازه درس خواندن را دارند، نورم تعداد شاگردان سال به سال اضافه میشود و فعلاً در حدود ٦٠ نفر شاگرد در هر صنف تدریس می شوند که رسیده گی با این همه شاگردان از توان معلم خارج است. و دلیل دیگر را که میتوان بیان کرد کمبود وقت است، مدت زمان درسی در مکاتب ما ۳۵ دقیقه است در این مدت استاد باید از درس گذشته ارزیابی و تکرار داشته باشد، کارخانگی را پیگیری نماید، درس جدید را شرح دهد و دوباره به مشکلات شاگردان از درس جدید برسد.

## عدم معیاری بودن نصاب درسی

عدم معیاری بودن کتب درسی سبب می گردد که در کارآیی آموزش پرورش کاهش بوجود آمده و کیفیت دروسس اساتید پایان بیاید. کتب درسی کشور ما بصورت بسیار پیچیده ظاهر میگردند. شاگردان که با حروف الفبا آشنایی ندارند در حالیکه کتب درسی صنوف اول ابتدایی فقط یکبار از آن یادآوری گردیده بعد بدون توجه به این موضوع که شاگردان الفباء یاد گرفته اند یا خیر، جملات ظاهر میگردد. شاگردان که در فامیل نظر به مشکلات نتوانسته اند تعلمیات پیش از رفتن به مکتب را کسب کنند، استادان هم نظر کمبود زمان و بنابر پیش برد پلان خود نمی تواند روی آن زیاد بچرخند، شاگرد با پراگراف های بزرگ مقابل میگردد، که این امر سبب مغشوش شدن ذهن دانش آموزان میگردد و در نهایت سبب میگردد از درس عقب بمانند. ویا این که مضامین وجود دارند آموختن برای شاگردان مکاتب ضرور نمی باشد مانند: انتخابی، وطندوستی و حرفه ... در حالیکه مضامین که مهم مانند عربی بدون کدام مقدمه در صنف 7 ظاهر میگردد و در ختم صنف 9 دوباره بدون رسیدن اصل هدف تمام میشود. عدم معیاری بودن نصاب درسی سبب میگردد کمیت مضامین افزایش داشته ولی کیفیت جذب در نزد شاگردان کاهش می یابد.

## مشکلات سیستم آموزش

سیستم آموزش در جهان قسمی است زمان که شاگردان خواندن، نوشتن و یک دید کلی راجع تمام مضامین دریافت کردند بعد میتوانند نظر به علاقه و استعداد خود مضامینی را دنبال کند که در رسیدن رشته دلخواهش کمک میکند و در آزمون کانکور هم مضامین تخصصی همان رشته را آماده گی میگیرند. اما در کشور ما شاگردان مجبور است که مضامین تمام بخش ها را بدون با در نظرداشت استعداد شان دنبال کنند و در تمام آن ها ممتاز باشند تا بتواند درجه عالی را به دست بیاورند. در کنار آن بعضی مضامین ناتمام ختم میشوند مانند عربی که در صنف 7 داخل مضامین مکتب میشود بعد در صنف 9 دوباره کنار میرود.

## ضعف اساتید

با توجه به بودن معاشات و کم توجهی به نیاز های اساسی معلمان از سوی دولت؛ اکثریت معلمان مسلکی از کشور خارج شده و یا مشغول حرفه های دیگری شده اند. ویا این که به دلیل فاصله زیاد از مسلک معلمی این مسلم را فراموش کرده اند و تعدادی تازه به دوران رسیده با استفاده از فساد اداری موجود و روابط مصروف به حرفه مقدس معلمی شده اند. چه بسا مواردی پیش آمده که شاگرد از معلم بهتر یاد داشته و معلم هم از روش جدید چیزی نمی فهمد. روش تدریس یکی از مسایل مهم است زیرا که آنچه شاگرد را زود به هدف میرساند همان روش تدریس توسط استاد ماهر است. اکثراً معلمین خصوصاً در مناطق دور دست مسلکی نیستند و شرایط برای شان مساعد نگردیده تا تحصیلات خویش را ادامه دهند. سیمینارها اکثراً بی کیفیت و آموزگاران از توانایی های ضعیف برخوردار اند و این باعث میگردد تا معلمین کمتر علاقه گرفته و سیمینارها را تعقیب نمایند. در شرایط فعلی کشور که غالب اجناس چند برابر افزایش قیمت داشته است. یکی از بهترین اقشار جامعه معلمین در وضعیت نا به سامانی میباشند. معلمی که زندگی او از نظر مالی تامین نشود چطور می تواند با فکر آرام، اولاد ما را آموزش داده و تربیت نماید؟

## عدم همکاری والدین

برخی از والدین فرزندانی دارند که از نظر سطح ذهنی درسی متوسط یا هم سطح پائین تر قرار دارند، اگر همکاری، تلاش و کوشش مستمر حتی اندک صورت گیرد میتوانند هم سطح دیگران شوند، یکی از دلایل که باعث شده کیفیت آموزش و پرورش در کشور ما پایین باشد، همان بی سوادی والدین است. قسم که اطفال با تعلیمات ابتدایی آشنا ساخته نمی توانند در کنار آن والدین از جریان درس، رفت آمد و کارخانگی شاگرد آگاهی و نظارت نداشته باشند سبب پایین شدن کیفیت آموزش میگردد .

## مشکلات اقتصادی

اکثریت شاگردان مکاتب بنابر پائین بودن سطح اقتصادی شان هم کار میکنند و هم درس میخوانند، آنعده که کار نمی کنند ناآرامی ذهنی دارند. دو طرف معلم و شاگرد که با ذهن ناآرام داخل صنف میگردند این طبیعی است که نمی توانند به وظایف شان به شکل خوب رسیدگی نمایند.

بصورت کل در بخش چالش ها از موارد مختلف چون؛ ضعف علمی معلمین، عدم ارتباط میان والدین و مکتب، نبودن وسایل تحریر، عدم ایجاد روحیه و انگیزه، عدم آشنایی شاگردان با روش های یادگیری، کمبود آب آشامیدنی، ناتمام ماندن بعضی مضامین، عدم علاقه مندی شاگرد به آموختن و استاد به آموزش، در نظر گرفتن یک شاگرد و از نظر انداختن استعداد شاگردان دیگر، داشتن دید تبعیض نژادی تعداد استادان در مقابل شاگردان، بی نظمی شاگردان و استادان در حصه حاضر بودن در صنف، عدم وجود سیستم مجازات و مکافات برای استادان و شاگردان و..... میتوان نام برد. کمبود های مختلف که در معارف کشور از لحاظ داخلی وجود دارد سبب شده است سیستم تعلیم و پرورش با موانع مواجه شده و روند پیشرفت آن بطور جدی به پیش نرود.

## یادداشت ضروری

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی CSRS در نظر دارد تا بخاطر تمرکز بیشتر روی قضایای جاری کشور و بالا بردن کیفیت تحلیل ها؛ سر از **۱۵** حمل **۱۳۹۹** هـ ش / اول اپریل سال **۲۰۲۰** م **تحلیل هفته** وار خویش را در هر دو هفته یکبار به نشر برساند، خوانندگان محترم مطلع باشند.

**ارتباط با ما:**

**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه با ما شریک سازید.**

**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

**ویبسایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.af

**شمارۀ تماس دفتر:** 784089590 (0) 93 +